مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: 50** (از اول عقرب الی هفتم عقرب 1392 هـ ش)

این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که توسط مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد تا نهادهای سیاست‌گذار استفاده نمایند.

---

## آنچه درین نشریه می‌خوانید:

### 1. هفتمین سفر رئیس جمهور کرزی به تاجیکستان

- کشور های دور و نزدیک منطقه هر کدام برای خود اهداف و مقاصدی در افغانستان دارند که با توجه به ضعف نظام و فساد همه جانبه موجود در سیستم دولتی کشور، نمی توان زیاد امیدوار بود که جانب افغانی بتواند با درک سالم و فراست لازم خود از این بازی های پشت پرده سیاسی در منطقه و جهان، برای تأمین حقوق و منافع ملی کشور مان، توجهی آن گونه که شاید و باید انجام دهد.

### 2. قضايي مصئونيت او لويه جرګه!

- امريکا يو کبر جن ځواک دی چې هېڅکله هم خپلو ژمنو ته غاړه نه ايږدي او موږ تر دې مخکې هم د دې خبرې شاهد يو چې کله له امريکا سره ستراتېژيک تړون لاسليک شو، دا ژمنه يې وکړه چې شپني عمليات به بندوي؛ خو موږ وليدل چې هغو ته يې دوام ورکړ، بې ځايه بمباری يې وکړې.

### 3. برگزاری انتخابات ریاست جمهوری افغانستان در دنیای ناامنی

- در چنین اوضاع، شایسته است تا نخبه های سیاسی کشور و تمام جهات مطرح اعم از حکومت و مخالفین، قبل از انتخابات به فکر آوردن امنیت و پیش از کمپاین انتخاباتی به فکر کمپاین بخاطراعادهء صلح و تحقق مصالحهء ملی درکشور نباشند، کار بجایی نخواهد رسید.

# هفتمین سفر رئیس جمهور کرزی به تاجکستان

**ریس جمهور کرزی برای هفتمین بار در رأس یک هیأت بلند پایه دولتی، هفتهٔ گذشته عازم کشور تاجیکستان شد .**



آنچه رسانه ها به حیث دست آورد مهم این سفر رئیس جمهور کرزی به تاجکستان نقل نموده اند، توافق روی پروژه انتقال انرژی برق از تاجکستان به ایران و پاکستان از طریق افغانستان است، که طی این سفر رؤسای جمهور دو کشور با امضای اعلامیه مشترک تاکید کردند که با ساخت خطوط انتقال برق در داخل افغانستان، برق این کشور به ایران و پاکستان منتقل شود.

و همچنان به گزارش رسانه‌ها برعلاوه این مسایل یاد شده سه کشور افغانستان، تاجکستان و ترکمنستان با امضای تفاهم‌نامه در زمینه ساخت راه آهن میان سه کشور نیز به توافق رسیدند که قرار است این خط آهن با عبور از شمال افغانستان، ترکمنستان و تاجکستان را باهم وصل کند.

همچنان در این سفر، با توجه به اهمیت دهلیز ترانسپورتی شمال – جنوب، که کشورهای آسیای مرکزی را از طریق افغانستان و پاکستان به آبهای گرم وصل می‌کند، توافق صورت گرفت تا هردو کشور تلاش نمایند که موافقت نامه سه جانبه ترانزیتی میان تاجکستان، افغانستان و پاکستان را در نزدیک‌ترین فرصت به امضا برسانند.

دیدگاهٔ آگاهان امور از پیامدهای این سفر رئیس جمهور کرزی به تاجکستان، متفاوت می‌باشد.

آقای احمد ضیا رحیمزی، نویسنده و ژورنالست افغان در پیوند به این سفر می‌نویسد:

سفر حامدکرزی به تاجکستان نه جدید بود و نه هم غیر منتظره، اما آنچه از پیامد ها و دست آورد های این سفر در رسانه های خبری نقل شده است، نشان می دهد که حامد کرزی در آخرین ایام اقتدارش اندکی متوجه مسایل منطقه یی گردیده است، در حالیکه اگر سیاست های منطقه یی و در مجموع سیاست های خارجی افغانستان طی بیش از دوازده سال گذشته، از آزادی و شفافیت لازم برخوردار می بود و روی این مسایل از همان آوان توجه صورت می گرفت، شاید امروز از لحاظ اقتصادی و تجاری وضعیت بهتری از این می داشتیم.

با توجه به این همه مسایلی که رسانه ها به حیث دست آوردهای سفر رئیس جمهور حامد کرزی به تاجکستان از آن یاد آوری می کنند، در ظاهر امر می توان گفت که سفر هفتم رئیس جمهور به دوشنبه، سفر مهم و پر دست آوردی بود، اما نباید فراموش کرد که کشور های دور و نزدیک منطقه هر کدام برای خود اهداف و مقاصدی در این منطقه دارند که با توجه به ضعف نظام و فساد همه جانبه موجود در سیستم دولتی کشور، نمی توان زیاد امیدوار بود که جانب افغانی بتواند با درک سالم و فراست لازم خود از این بازی های پشت پرده سیاسی در منطقه و جهان، برای تأمین حقوق و منافع ملی کشور مان، توجهی آن گونه که شاید و باید انجام دهد.

به باور آقای رحیمزی، بازی های سیاسی پشت پرده بین قدرت های منطقه و جهان که از مدت هاست گاه علنی و گاه پنهان جریان دارد، مشکل دیگریست که متاسفانه افغانستان را هم به دلیل دخیل بودن در پارت ها و پکت های نظامی و سیاسی منطقه و جهان (چه خواسته و چه ناخواسته) در آن می پیچانند و اینجاست که مردم مظلوم و ستم دیده ما قربانی سیاست های ناکام دولتمردان خود و سیاست های خرابکارانه و تباه کن منطقه و جهان می گردند.

رحیمزی می‌گوید: دلچسپی بیش از حد کشورهای عضو سازمان همکاری های شانگهای با قضیه و تحولات در افغانستان که در آخرین اجلاس این سازمان در بشکیک پایتخت قرغزستان تدویر یافته بود، نیز تا حدودی تبلور یافت و نقش محوری و تعیین کننده کشورهای

آسیای میانه و به استقلال رسیده پس از سقوط شوروی سابق و روسیه به حیث میراث خوار اتحاد شوروی در این سازمان را نمی توان بدون رابطه با سفر اخیر رئیس جمهور حامد کرزی به تاجکستان دانست، به همین ترتیب اعلام توافق میان روسیه و تاجکستان مبنی بر جابجا شدن نیروهای ارتش روسیه در سرحد مشترک بین افغانستان و تاجکستان پس از خروج نیرو های امریکا و ناتو از افغانستان را نیز نمی توان در این راستا نادیده گرفت.

نگرانی کشورهای دور و نزدیک منطقه با جنگ جاری در افغانستان و مبارزه ایکه به قول آنها علیه تروریزم جهانی در این کشور مصیبت زده صورت می گیرد، نیز یکی از مسایل دیگر مشترکی است که هر دوکشور افغانستان و تاجکستان را در اکثر اوقات با هم گره می زند.

وی افزود: در عین زمانی که رئیس جمهور کرزی مصروف بازدید دو روزه خود از کشور تاجکستان بود، منموهن سنگ نخست وزیر هند نیز مصروف بازدید از مسکو بود و به اساس گزارش رسانه های روسی موصوف ضمن دیدار و گفتگو با ولادیمیر پوتین رئیس جمهور روسیه از نقطه نظر مشترک شان در قضایای افغانستان و سوریه یاد آوری کردند، که این خود نشاندهنده یک بازی منطقه یی در قبال افغانستان و قضایای افغانستان است و به صورت طبیعی نمی توان از نقش تاجکستان در این بازی، به حیث کشوری که تحت نفوذ شدید روسیه قرار دارد، چشم پوشی کرد.

---

## قضايي مصئونيت او لويه جرګه!



تېر کال د مې د مياشتې په دويمه نېټه کابل د ستراتيژيکې موافقتنامې شاهد ؤ، هغه مهال دولت وويل: چې د يو کال په دننه کې به امنيتي موافقتنامه هم لاسليکېږي. پرون چې جان کيري له ولسمشر حامد کرزي سره په کابل کې کومه ناسته درلوده دا د امنيتي موافقتنامې په لړ کې د کيري او کرزي دريمه ناسته وه. پخوا داسې ګنګوسې وې چې ښايي د اختلافاتو له امله دا موافقتنامه لاسليک نه شي، زلمي خليلزاد هم واشنګټن پوسټ ته د جولاى په ۲۶ مه ليکلي وو: (دا احتمالي خطر شته چې افغانستان او د امريکا متحد ايالتونه به ښايي هغه امنيتي تړون لاسليک نه کړي چې پر بنسټ به يې تر ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان کې متحد ايالتونه نظامي حضور ولري). دې اختلاف خپل موردونه درلودل، په دوی کې قضايي مصئونيت، ملي حاکميت، خپلسري عمليات، ولسي وژنې، بهرنی تجاوز او د افغان اردو او پوليسو روزنه، تجهيز او مالي ملاتړ وو. په هر صورت پر دې مسئلو تر ډېر چنو وروسته ولسمشر حامد کرزی او د امريکا د بهرنيو چارو وزرير جان کيري د دريمې مرحلې د خبرو اترو په ترځ کې پر ډېرو برخو موافقې ته ورسېدل. خو دا لا هم معلومه نه ده چې دا به موافقتنامه وي که تړون، پر موافقتنامې هغه څه نه مرتبيږي کوم چې پر تړون مرتبيږي.

د سياسي چارو شنونکی او د سيمه ييزو او ستراتيژيکو څېړنو د مرکز مشر دوکتور عبدالباقي امين د حامد کرزي او جان کيري د وروستيو خبرو په اړه وايي، چې مهمه اختلافي موضوع د قضايي مصوونيت ده، چې تر اوسه يې په اړه هوکړې ته نه دي رسېدلي او د بهرني تجاوز په هکله هم امريکايان نه غواړي چې د پاکستان پر وړاندې ودرېږي او خپلو ګټو ته زيان ورسوي. دکتور عبدالباقي امين پدې نظر دی چې د قضايي مصوونيت د موضوع لپاره راغوښتل کېدونکې لويه جرګه ناقانونه ده او له تخنيکي پلوه هم تر ډېره هغه کسان پکې راټولېږي، چې

حکومت يې ټاکي او د ولس ملاتړ له ځان سره نه لري، اصلا بايد د ملت روحيې ته وکتل شي، ملت له امريکايانو سره خوښ نه دی او نه غواړي چې هغوی دلته پاتې شي.

خو د ده په وينا، په اوسني حکومت کې داسې کړۍ شته، چې د امريکايانو شتون د خپل شتون ضمانت ګڼي ، هغوی به په هر قيمت هڅه کوي ترڅو دلته پاتې شي. د دغو کړيو هڅه دا ده، چې که څه هم امريکايي پوځيانو ته قضايي مصوونيت ورکول زيانونه لري؛ خو امريکايان دې دلته پاتې شي، ترڅو نظام داسې بدل شي چې د دوی شتون تضمين کړي.

دده په وينا د سولې او سوکالۍ لپاره د امريکايانو شتون ګټور نه دی؛ ځکه نن مخالفين وايي چې يو امريکايي هم په افغانستان کې وي، موږ به جګړې ته دوام ورکوو، نو بيا ولې موږ په دې ټينګار کوو چې امريکايان دې په افغانستان کې پاتې شي؟ د دې پر ځای بايد افغانان په خپلو کې جوړجاړی وکړي . د سيمه ييزو او ستراتيژيکو څېړنو مرکز مشر وايي: چې له دغه تړون سره سيمه ييز حساسيتونه هم رامنځته کېږي، ايران ورسره مخالف دی، پاکستان ورسره مخالف دی، چين ورسره مخالف دی، روسيه ورسره مخالفه ده، ټول هېوادونه چې زموږ په شاوخوا کې دي، د امريکايانو پوځي شتون ته د شک په سترګه ګوري؛ خو که نن هم امريکايان له دې ځايه ولاړ شي، کېدای شي له ايران او پاکستان سره ځينو ګډو ټکو ته ورسېږو او دلته لاسوهنه ونه کړي.

دوکتور عبدالباقي امين امريکايي پوځيانو ته د مصوونيت د ورکړې په اړه وايي، چې که امريکايي پوځيانو ته قضايي مصوونيت ورکړل شي، نو په افغانستان کې به د هغوی د ډېرو جنايتونو شاهدؤ، له وينې تويېدنې نيولې د خلکو پر ناموسونو تر تېري او نورو جرمونو پورې.

نوموړی زياتوي: "که دوی ته دا سند ورکړل شي، چې تاسو به دلته نه محاکمه کېږئ، نو لکه څرنګه مو چې د يوه امريکايي پوځي په تړاو وليدل، چې په کندهار کې يې بې ګناه ولسي وګړي ووژل او د هغوی بې حرمتي يې وکړه، خو په پايله کې يې موږ ته په اړه ووېل شول چې په هغو ورځو کې نوموړي سرتېري رواني ستونزه درلوده، نو دارنګه شکلي محاکمې به ترسره کېږي او هغسې به يې هېڅکله هم محاکمه نه کړي کوم چې دلته ترسره کېږي. او له سره امريکايان زموږ عزت او زموږ وينې ته په هغه سترګه نه ګوري کوم چې په خپلو ملکونو کې ورته ګوري." ښاغلی امين په ټوله کې دغه امنيتي تړون د افغانستان په خير نه بولي او وايي، چې د دې هېڅ ضمانت نشته دی چې امريکايان به خپلو تعهداتو ته ژمن پاتې شي.

نوموړی وايي: "امريکا يو کبر جن ځواک دی چې هېڅکله هم خپلو ژمنو ته غاړه نه ايږدي او موږ تر دې مخکې هم د دې خبرې شاهد يو چې کله له امريکا سره ستراتېژيک تړون لاسليک شو، دا ژمنه يې وکړه چې شپني عمليات به بندوي؛ خو موږ وليدل چې هغو ته يې دوام ورکړ، بې ځايه بمبارۍ يې وکړې."

د ده په وينا، د دې هېڅ ضمانت نشته چې د دغه تړون له لاسليک وروسته له يوه داسې هېواد سره چې امريکايان دلته پوځي شتون لري او له اقتصادي پلوه دوی ته اړ دي، د دواړو لورو ګټې په مساويانه توګه وساتل شي، نو له همدې امله دا تړون د افغانستان په خير نه دی.

د افغانستان او امریکا تر منځ د امنیتي تړون په اړه د خبرو اترو لپاره، چې له تېر کابو یوه کال راهیسې یې په اړه دوه اړخیزې خبرې روانې دي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري کابل ته راغی او له ولسمشر حامد کرزي سره یې په دې اړه خبرې وکړې.

تر دغو خبرو اترو وروسته ولسمشر کرزي په یوه خبري غونډه کې وویل: چې له جان کیري سره په دوه ورځنیو خبرو کې د دغه تړون په اړه په ډېرو اختلافي مواردو کې سره هوکړې ته رسېدلي دي او یوازې په افغانستان کې د پاتې کېدونکو امریکایي پوځیانو د قضایي مصوونیت په اړه، چې په وینا یې د افغان حکومت تر صلاحیت لوړه خبره ده، ددواړو لوریو تر منځ اختلاف پر ځای پاتې دی،او دولسمشر حامد کرزي په وینا دا موضوع به دودیزې لویې جرګې ته، چې تر یوې میاشتې پورې به راوغوښتل شي، وړاندې کړي ، تر څو په اړه یې پرېکړه وکړي.

اوس خبره دا ده، چې په ریښتیا هم د ولسمشر کرزي او جان کیري په خبرو کې څه پرمختګ شوی او د کابل حکومت د هغه شرطونو په اړه چې د بهرني تېري په وړاندې له افغانستان خاورې څخه دفاع، په افغانستان کې د امنیت ټېنګښت او دلته د مېشتو امریکایي سرتېرو له خوا د جرم ترسره کېدو په صورت کې د هغوی د محاکمې حق او داسې نور مسایل وو، دواړه لوري کومې خاصې پرېکړې ته رسېدلي دي؟ د دې تر څنګ دا پوښتنې هم پر خپل ځای د ځواب په تمه دي چې امریکایي پوځیانو ته به د قضایي مصوونیت ورکولو او په ټول کې د امنیتي تړون پایلې د افغانستان لپاره څه وي او آیا په ریښتیا به هم د امنیتي تړون له لاسلیک کولو سره په افغانستان کې سوله راشي؟ او دا چې امریکایان د قضایي مصوونیت په اړه ټینګار کوي، نو لویه جرګه به یې په اړه څه پرېکړه وکړي؟ او د قضایي مصوونیت د موضوع لپاره چې کومه لویه جرګه راغوښتل کېږي، قانوني حیثیت یې څومره دی او په اړه یې نورې اندېښنې څه دي. په دې اړه مو د سیاسي چارو د څو تنو شنونکو نظرونه را غونډ کړې دي چې وبه یې لولو:

د افغان حکومت له اړخه د امنیتي تړون پر سر د بحث لپاره را بلل شوې لویه جرګه د افغان دولت د سیاسي مخالفینو له نظره نیمګړې ده او د هغه تعریف جوګه نشي کېدای چې په اساسي قانون کې له دغې لویې جرګې شوی دی او ترڅنګ یې د هغې د راغوښتلو موخو ته د شک په سترګه ګوري.

د افغانستان د بهرنیو چارو پخوانی مرستیال وزیر او د ملي ایتلاف ګوند د مشرتابه پلاوي غړی محمود صیقل پدې اړه داسې نظر لري چې لس کاله مخکې کله چې اساسي قانون تصویب شو، دودیزې او مشورتي لویې جرګې قانوني شوې، یعني موږ د اساسي قانون له مخې یوه لویه جرګه لرو، چې دا اجازه ورکوي چې په ډېرو مهمو حالاتو کې راوغوښتل شي، خو له هغې ورځې چې اساسي قانون تصویب شوی دی، ولسمشر تر نن ورځې پورې د اساسي قانون مطابق لویې جرګې د راغوښتلو هڅه نه ده کړې او کومه لویه جرګه چې اوس راغوښتل کېږي، نه یوازې دا چې په اساسي قانون کې بلکې د افغانستان په هېڅ قانون کې هم اشاره نه ده ورته شوې؛ نو ځکه دا یوه ناقانونه جرګه ده.

صیقل دا هم وایي چې له همدې امله د ښاغلي کرزي د حکومت یو شمېر مهم غړي او دغه راز د پارلمان ډېری غړي او نورې سیاسي څېرې هم وایي، چې دا یوه قانوني لویه جرګه نه ده؛ او له تخنیکي پلوه هم څرنګه چې تر اوسه د ولسوالیو دشوراګانو ټاکنې نه دي ترسره شوې، نو د اساسي قانون له مخې به دا جرګه نیمګړې وي، ځکه چې د ولسوالیو د شوراګانو غړي به نه وي پکې، او دا پوښتنه هم پر خپل ځای

شتون لري چې په تېرو لسو کلونو کې ولې د ولسواليو د شوراګانو لپاره ټاکنې ترسره نه شوې. دغه پخوانی افغان ډیپلومات پدې باور دی چې يوازينی قانوني مرجع د افغانستان پارلمان دی، چې د امنيتي تړون موضوع بايد هلته وړاندې شي .

صيقل وايي تر کومه چې موضوع دلته د امريکايي سرتېرو په قضايي مصوونيت پورې تړلې ده، پوښتنه دلته ده چې که کوم امريکايي سرتېری په افغانستان کې جرم کوي ايا د امريکا د عدلي او قضايي قانون له مخې محاکمه شي که د افغانستان، په داسې حال کې چې د امريکا قوانين يې حکومت ته اجازه نه ورکوي چې پوځيان يې د يوه بل هېواد تر عدلي او قضايي سيستم لاندې محاکمه شي او دا مسئله روښانه ده، نو موږ ته يوازې يو انتخاب پاتې کېږي، چې آيا موږ دا اجازه ورکوو چې هغه امريکايي پوځيان چې جرم کوي په امريکا کې محاکمه شي. او تر څنګ يې دا چې آيا موږ پر خپل عدلي او قضايي سيستم باور لرو؟ چې له بده مرغه د افغانستان خلک خپله هم د افغانستان پر عدلي او قضايي سيستم باور نه لري او دا هم د حکومت يوه کمزوري ده.

*ډاکټر وحيدالله مصلح په دې اړه وايي:*

له کيري سره تر خبرو څو ورځې مخکې حامد کرزي د امنيتي موافقتنامې په د لويې جرګې د راغوښتلو لپاره کميسيون جوړ کړ، دا په همدې معنا وه چې امنيتي موافقتنامه وروستيو مرحلو ته ننوتې. لويه جرګه خو به يو ځل بيا راوغوښتل شي خو هغه شکونه چې له خلکو سره شته هغه به بيا هم نا حله پاته وي:

د لويې جرګې غړي به د کومو معيارونو او ميکانيزم له مخې ټاکل کېږي؟ دا انتسابي غړي د کوم صلاحيت له مخې د ټول ملت استازيتوب کولای شي؟ او آيا د جرګې غړي به د يوه ابزار په توګه موافقتنامې ته د مشروعيت لپاره استعمال نه شي؟

په دې اړه ډېره مهمه خبره دا هم ده چې د حامد کرزي له وينا سره سم به لويه جرګه د امنيتي موافقتنامې او په ځانګړي ډول د يوې خاصې مادې په اړه راغوښتل کېږي کومه چې د نوموړي په اند هغه يې د لاسليک صلاحيت نه لري، دا ماده د امريکايي ځواکونو د قضايي خونديتوب ماده ده... خو دا چې تېر کال د ستراتيژيکې موافقتنامې پر تعقيب کومه لويه جرګه راوغوښتل شوه، هلته د راتلونکي امنيتي موافقتنامې لپاره يو غټ شرط دا ايښودل شوی وو چې د بهرنيانو قضايي مصئونيت به افغان دولت نه مني، نو د جرګې د پرېکړې پر دې صراحت بيا ولې بله جرګه راغوښتل کېږي؟

**ملي حاکميت:**

د حامد کرزي او کيري د مطبوعاتي کنفرانس له مخې، په خبرو اترو کې د ملي حاکميت پر موضوع توافق رامنځته شوی، هغه څه چې کرزي وويل دا وو چې: موږ د دې ضمانت ترلاسه کړ چې امريکا به د دغه سند له مخې د افغانستان ملي حاکميت ته احترام کوي. اوس پوښتنه دا ده چې ملي حاکميت ته احترام د کومې پابندۍ ښکارندويي کوي؟ داسې اټکل کېږي چې د احترام اصطلاح د ملي احساساتو سره د تعامل لپاره کارول شوې او کومه پابندي پرې نه شي مرتبېدلی. کله چې خاوره او هواء، نظامي سرچينې او ملکي دايرې ټولې د بهرنيو په ملاتړ باندې تکيه ولري نو بيا پر کوم بنياد د ملي حاکميت د ساتنې توقع وکړای شي؟.

د ملي حاکمیت په دایره کې د خپلسرو عملیاتو درېدل یو بل مورد دی چې د امریکا او افغان دولت تر منځ پرې اختلاف موجود وو، دا اختلاف اوسنی نه دی بلکې د ستراتیژیکې موافقتنامې تر لاسلیک د مخه افغان دولت او بهرنیو ځواکونو دا موافقه کړې وه چې نور به بهرنیان شپېني عملیات نه تر سره کوي، تر هغې راوروسته دا موافقه د بهرنیانو تکرار نقضونو داسې ماته کړه چې د کرزي او افغان دولت هر بار غندنې نوره دا قضیه ډېره عادي ګرځولې.

حامد کرزي په مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې: امریکایي ځواکونه به پخپل سر عملیات نه کوي، له ملکي تلفاتو څخه به مخنیوی کوي، د افغانستان د خلکو د سر او مال ساتنه به کوي.

د ولسمشر له دې خبرو دا نتیجه اخېستلای شو چې امریکایان به د امنیتي تړون تر لاسلیکېدو وروسته په افغانستان کې بیا هم عملیات کولای شي، او له همدې امله خو یې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه موافقه کړې ده. په هر صورت پر امریکایانو د افغانانو د سر او مال ساتنه هم څه عجیبه ملي غوښتنه برېښي! په دې اړه یوه بله انګېرنه هم شته، تر دې دمه چې امریکایانو په افغانستان کې کوم ملکي تلفات اړولي دي، دا نه ده واضح چې دوی قربانیانو ته د دیت هغه حد ورکړی کوم یې چې باید په خپل ملک او یا په نورو هېوادونو کې د قربانیانو کورنیو ته ورکوي، د ښځې غوښتل، د ډېر لږ رقم دیت، او په نادر اقدام کې د یوې پلمه محاکمې په ترځ کې د نه اعدام پرېکړه هغه څه دي چې د بهرنیانو په دا ټول اشغال تاریخ کې یې افغانستان شاهد دی... او دا ټول د ملي حاکمیت او ملي خپلواکۍ په ارزښتونو پورې اړه لري.

**بهرنی تجاوز!**

د تېر کال ستراتیژیکې موافقتنامې تر لاسلیک وروسته دا ویل کېدل چې امریکا به د بهرني تجاوز په وړاندې د افغانانو ملاتړ کوي، خو د افغانستان په ختیځ کې د توغندویي دوامداره بریدونو په مقابل کې د امریکا سکوت د دې مدعیانو ټولې هیلې له منځه یووړې. همدا لامل ؤ چې له کیري سره په مطبوعاتي کنفرانس کې کرزي وویل: امریکا د خارجي تجاوز په وړاندې د افغانستان دفاع ونه کړه او په همدې دلیل مو باید د بېروني مداخلې په اړه یو مشخص تعریف میندلی وای.

امریکا له افغانستان او پاکستان سره جلا تعاملونه لري، له پاکستان سره د ستراتیژیک او سیمه ییز ځواک په توګه، او له افغانستان سره د یو داسې دولت په توګه چې امریکایانو یې د نوي حکومت د بنې بنسټ کېښود او ټولې منابع یې د امریکایانو په لاس کې دي، دا مهال امریکا پاکستان ته د افغانستان په نسبت د یوه ستراتیژیک او تاریخي ملګري په توګه ګوري، له همدې امله داسې اټکل کېږي چې امریکا به هېڅکله د بهرنیو او خصوصاً د پاکستان بریدونو په مقابل کې ونه درېږي، لکه څنګه چې د بنګله دېش د جلا کېدو په جریان کې د پاکستان په ننګه ونه درېد.

**له مخالفینو سره خبرې اترې!**

ددې سند په امضاء کولو سره به ښایي له مخالفینو سره خبرې اترې له یوه بل بغرنج حالت سره مخ شي، سره له دې چې په قطر کې د طالبانو د دفتر تر خلاصېدو څو ورځې وروسته نړیوالو رسنیو د طالبانو د استازي شاهین له خولې لیکلي وو چې په افغانستان کې د

امریکایانو پر پاتېدو خبرې د مذاکراتو په دوام کې تر سره کېدای شي، خو طالبانو په اصولي توګه تر دې دمه په افغانستان کې د امریکایانو له شتون سره خپل ډېر سخت مخالفت ښودلی دی. یوازې طالبان نه بلکې د انجنیر حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي افغانستان هم په افغانستان کې د بهرنیانو د موجودیت له سختو مخالفینو دی. په دغسې یوه حالت کې ښایي مخالفین د خبرو اترو پر ځای وسله واله مبارزه د فشار تر ټولو مؤثره وسیله وبولي او په دې ډول به دا ترون د یوې دوامدارې جګړې باعث شي.

**ملي اردو او ملي پولیس**

د ملي اردو د ملاتړ او تجهیز په لړ کې امریکایانو تر دې دمه هغسې څه نه دي کړي څرنګه چې یې دولت طمع درلوده، داسې ویل کېږي چې امریکایانو تر دې دمه اردو او پولیس یوازې د وسله والو مخالفینو په وړاندې د جګړې په حد کې تجهیز او روزلي دي. دا چې افغان ملي اردو او پولیس دې د یوه هېواد د متعارفې اردو په حد کې سنبال شي دا چاره لا هم د سیمې لپاره د امریکا د پټو سیاستونو په تیاره کې پرته ده. افغان اردو لا تر دې دمه هوایي ځواک، دافع هوا، زرهي ټانکونه، ثقیله وسلې او نوې نظامي ټیکنالوژي نه لري. دا په داسې حال کې چې د سیمې د غټو نظامي هېوادونو په منځ کې ایسار دی. دا چې په مطبوعاتي کنفرانس کې کیري وویل چې: افغان اردو به روزي، تجهیزوي به یې او مالي ملاتړ به یې کوي، دا نو که له یوې خوا د امریکایانو د تېرې پالیسۍ د بدلون کومه نښه نه لري له بلې خوا دا پیغام هم له ځان سره لري چې د دا دومره مصرفونو وروسته به افغان نظامي ځواکونه له امریکا څومره اغېزمن وي؟

## برگزاری انتخابات ریاست جمهوری افغانستان در دنیای ناامنی

اخیرهفتهء گذشته لستی مشتمل بر اسامی ده تن از کاندیدان برای انتخابات ریاست جمهوری افغانستان, به نشررسید. به گفتهء یوسف نورستانی رئیس کمیسیون انتخابات، این لست نهایی نبوده احتمال کمی و بیشی در آن در روزهای آینده ممکن است و به گفته وی 16 تن ازحذف شده گان نیز می توانند به کمیسون سمع شکایات مراجعه نموده وشکایات شان را ثبت نمایند.

عدهٔ از تحلیل‌گران از ضعف حکومت درین قضیه سخن می‌گویند و همچنان عدهٔ دیگری از برنامه‌ها و سیاست‌گذاری های کاندیدان!

آقای استاد نصیراحمدنویدی، رئیس شورای مرکزی جمعیت اصلاح افغانستان به گروپ رسانه یی اصلاح می‌نویسد: تقلیل نام ها با صرف نظر ازینکه چه کسانی حذف شده اند وچه کسانی باقی مانده اند, امرمعقولی به نظرمیرسد. ولی آنچه تا حال معلوم نیست, برنامه ها و تفاوت درخط مشی کاندیدان محترم نسبت به یک دیگرمی باشد. درحالیکه در دنیایی که خود را مهد دیموکراسی می داند، یک کاندید از لحظهء عزم برای کاندیداتوری, برنامه های خویش را اعلان و تفاوت خط مشی خود با طرف یا اطراف دیگر را به وضوح بیان می دارد. اما چنانچه مشاهده می شود، در انتخابات در کشورما بیشتر کرکتر اشخاص, سابقه و نفوذ اجتماعی شان مطرح است، تا برنامه ها و سیاست های آنها. آنهم شاید به خاطر اینکه درینجا بخش اعظم برنامه ها و سیاست ها در دست خود افغانها نبوده بلکه دیگران آن را اداره می نمایند.

در حالیکه کمیسیون انتخابات مصروف نهایی سازی لست کاندیدان بوده وکاندیدان محترم نیز در صدد تنظیم کمپاین های انتخاباتی خود می باشند، عامهء مردم نگرانی های دارند که گمان نمی کنند که انتخابات فعلی راه حلی برای آنها باشد.

آقای نویدی می‌گوید: جنگ وبی امنیتی خاصتاً در مناطق روستایی کشور نه تنها از میان نرفته که روزبروز بیشتر نیز می‌گردد. میزان بیکاری روز تا روز بیشتر گردیده و نسل جوان کشور همانند دههء نود درصدد رفتن به خارج از کشور به امید یافتن فرصت های بهترزندگی می باشند. نخبه های سیاسی کشور بیشتر به فکر مصلحت های فردی و گروهی خویش می باشند نه در فکر مصالح علیای مملکت. همچنان فساد,، ظلم و مخالفت قانون به امر معمول در ادارات حکومتی مبدل گشته است.

از دیدِ آقای استاد نویدی در چنین اوضاع، شایسته است تا نخبه های سیاسی کشور و تمام جهات مطرح اعم از حکومت و مخالفین، قبل از انتخابات به فکر آوردن امنیت و پیش از کمپاین انتخاباتی به فکر کمپاین بخاطراعادهء صلح و تحقق مصالحهء ملی درکشور نباشند، کار بجایی نخواهد رسید.

وی می‌گوید: در شرائط فعلی اگر جهات متخاصم با هم نزدیک نگردیده و به جنگ و بی امنیتی در کشور نقطهء پایان نگذارند، هیچ کس و هیچ جهتی درین کشور نه احساس مصؤنیت خواهند نمود و نه هم مردم ما روی خوشبختی و سعادت حقیقی را خواهند دید.

اکنون مناسب ترین وقت است تا افغانها خود، امنیت خانهء مشترک خویش را بدست گرفته از راه نزدیکی و تفاهم داخلی بهانه ها بخاطر حضور قوای نظامی خارجی در کشور را مرفوع سازند.

وی افزود: امریکا نه به فکر دیموکراسی در افغانستان است و نه هم خوشبختی و رفاهیت وامنیت مردم ما برایش مفهومی دارد. کشوریکه درپیش روی چشمانش حکومت منتخب محمد مرسی در مصر بدست جنرالان وفاداربه آن سرنگون گردیده وخم به ابرو نمی آرد, کشوریکه حاضرشده است بخاطر" امنیت خود" به جاسوسی واستراق سمع شهروندان ودیپلوماتان کشور های اروپایی و نزدیکترین وقوی ترین متحدین خود بپردازد, دررابطه به هتک حرمات وپایمالی نوامیس مردم فقیر افغانستان وتحقق دیموکراسی درین کشورچه توقعی می توان داشت. دیموکراسی وانتخابات برای غرب درکشوری تحت الحمایه چون افغانستان, حیثیت نمایشی را دارد که مقصد ازآن فریفتن مردم و پوشیدن لباس کامیابی برای نا کامیهای خود می باشد.

نیروهای خارجی ای که پیمان استراتیژیک قبلی آنها نتوانست تصرفات ایشان را قانون مند ساخته از تطاول به نوامیس وخون های بیگناه مردم شریف ما بازدارد, امضای یک پیمان امنیتی جدید نیزهیچ تغییری درمعادله وارد نخواهد ساخت. چنانچه گفته اند درندگی گرگ از سرشت و طبیعت آن است نه از گرسنگی. نیروهای اجنبی در یک کشور دیگر بخاطر افروختن جنگها و مدیریت سیاست های منطقه طبق پالیسی های تعیین شده حضور می یابند, نه بخاطر" پخش حلوا".

استاد نویدی در اخیر چنین پیام میدهد: بیایید که قبل از سرمایه گذاری های هنگفت روی انتخابات, بخشی از وقت و سرمایهء خویش را صادقانه در راه اعادهء صلح و حاکمیت ملی کشور نیز به خرچ دهیم تا به این وسیله، دَین تاریخی خویش را در رابطه به ملت ادا نموده و آیندهء کشورخود را بدست خود ساخته باشیم.

---